# إِذَا أَتَيْتُمُ الغَائِطَ فَلاَ تَسْتَقْبِلُوا القِبْلَةَ، وَلاَ تَسْتَدْبِرُوهَا وَلَكِنْ شَرِّقُوا أَوْ غَرِّبُوا»، «کله چې د حاجت رفع کولو ځای ته لاړئ نو قبلې ته مخ یا شا مه اړوئ، بلکې، ختیځ او یا لوېديځ لوري ته شئ

له ابو ایوب الانصاري رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: «إِذَا أَتَيْتُمُ الغَائِطَ فَلاَ تَسْتَقْبِلُوا القِبْلَةَ، وَلاَ تَسْتَدْبِرُوهَا وَلَكِنْ شَرِّقُوا أَوْ غَرِّبُوا»، «کله چې د حاجت رفع کولو ځای ته لاړئ نو قبلې ته مخ یا شا مه اړوئ، بلکې، ختیځ او یا لوېديځ لوري ته شئ» ابو ایوب وويل: نو موږ شام ته لاړو، ومو ليدل چې کنارابونه قبلې لورې ته جوړ شوي وو، نو موږ به ترې کرېدلو، او له الله تعالی څخه به مو بخښنه غوښتله.

[(صحیح] [متفق علیه دی ( بخاري اومسلم دواړو روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم هر هغه څوک چې د وړوکي یا لوی حاجت رفع کولو اراده ولري قبلې ته له مخ یا شا کولو څخه منع کړی دی، بلکې ختیځ او یا لوېديځ لورې ته ترې باید کوږ شي، البته که چېرته یې قبله د مدینې د خلکو د قبلې په څېر وي. بیا ابو ایوب رضي الله عنه وويل چې کله دوی شام ته لاړل نو ويې ليدل چې د حاجت رفع کولو لپاره کنارابونه د قبلې لورې ته جوړ شوي دي، نو دوی به خپل ځانونه د قبلې څخه کږول او لدې سره به يې د الله تعالی نه بخښنه غوښتله.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3078

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY

لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee